# د بونېر په سیمه ادبي هلې ځلې

باچا ترمذي

د بونېر اباديي چې اووۀ (٧) لکه ده، د ایلم، جعفر، دوه سرو غر او مابڼ او ډاک سر غونډې د سېل او تاریخي ځایونو مور ده. پکښې پیربابا، قادرنگر بابا، سالار بابا، دیوانه بابا، شلبانډې شېرین او پیر ابې په نوم لوئے اولیا کرام ښخ دي. په دې سیمه کښې د پښتو خصوصاً او د قامي او نورو ژبو عموماً شاعران او ادیبان هم موجود دي.

بونېر چې د پښتنو زمکه ده، قبائلي نظام ئې لیدلے دے، د والي صېب ریاست او بادشاهي پرې پاتې شوې ده. کال ۱۹٦۹ء کښې د پاکستان حصه او د ضلع سرائے سب ډویژن ؤ او په کال ۱۹۹۱ء کښې ځان له ضلع شوه خو د شلو کالو د مودې راهسې د سیمې ادیبان شاعران د یو متحد پلېټ فارم نه محروم وو. مشر لیډر ئې نۀ ؤ نو ځکه د علاقې، وطن او بین الاقوام سره د رابطې نه محروم وو. وزن ئې هم نۀ وۀ، د مسئلو ښکار وو چې کله د روان کال د اپرېل په وړومبۍ نېټه طالبانو په بونېر قبضه وکړه او بیا د اپرېل په اخري ورځو کښې پوځي اپرېشن شروع شو او درې لکه خلق بې کوره شو چې پکښې شاعران او ادیبان هم وو. په صوابۍ، مردان، چارسده، نوښار او پېښور کښې ئې پناه واخسته نو د صوبې د نورو ادیبانو، شاعرانو سره ئې رابطې جوړې شوې نو ځکه ئې ضرورت محسوس کړو چې د بونېر په سوونو شاعرانو او ادیبانو له هم یو متحده پلېټ فارم پکار دے. غونډه ئې وکړه او د روان کال د اکتوبر په میاشت کښې ئې د بونېر ادیبانو شاعرانو له "بونېر ادبي جرګه" یوه رڼا او تنظیم ورکړو چې ستر مشر یا سرپرست اعلې ئې د پښتو ژبې لوئے شاعر، مصنف، لیکوال شمس بونېرے جوړ کړو. نوره کابینه ئې څۀ دا رنګې ده.

صدر نواز یوسفزے، نائب صدر صاحب زرجان، سنئیر نائب صدر اورنګ زېب خطاب، جنرل سېکرټري بهر مند بهر، جائنټ سېکرټري ګلزار یوسف، خزانچي بخت رحمان سیال، سېکرټري اطلاعات محمد اقبال اعزاز، رابطه سېکرټري سحر بونېرے، قانوني مشیر رفیق الله اېډووکېټ.

د بونېر ادبي غونډې ممبرانو د کابینې سره سره د یوې خصوصي کمېټۍ یا تهنک ټېنکس هم منظوري ورکړه چې غړي ئې لاندیني کسان دي:

۱- فانوس ګجر ۲- سردار بابک (صوبائي وزیر) ۳- صاحبزاده ماما. ٤-علي ګوهرشاه ٥-بخت بهادر ٦- اقبال خان ۷-ظاهر رحمان ۸- د پرېس کلب بونېر ممبر.

د بونېر ادبي جرګې د قیام او هلو ځلو نه د بونېر د اولس د خبرولو د پاره شمس بونېرے سرپرست او د کابینې نورو واکدارو، په پرېس کلب ډګر کښې مقامي لیکوالو سره مرکه او پرېس کانفرنس هم وکړو چې تفصیل ئې څۀ دا رنګې دے.

مقامي خبريالانو سره مرکه کښې شمس بونېري ووئيل چې د ډېرې مودې او کلونو راهسې د بونېر شاعران اديبان غېر منظم وو، هلې ځلې خورې ورې، ځان ته وې نو ځکه وروستو وو. د بونېر ادبي جرگې د جوړېدو مقصد دا دے چې اديبان منظم شي، په يوه لړۍ کښې وپېئل شي، تنظيم جوړ شو، د بونېر مرکزي تجارتي ښار کښې به ورته دفتر جوړکړو، رجسټرډ به ئې کړو، منشور او دستور به ورله جوړکړو.

بله دا چې دا جرگه به د سياسي او نورو لېبلو نه مبرا وي، زمونږ کار په معاشره کښې د غريب استحصال، ناروا سلوک او ظلم خلاف اواز او قلم وچتول دي. په سياست کښې د پټو جرمونو څرگندونه ده. په شاعرۍ کښې د حسن او ښکلا سره سره په معاشرتي ژوند کښې د بدنما داغونو نشاندهي او د هغې خلاف قدم وچتول دي ځنگه چې د ماشوم د پېدائش سره هغه ته تازه او پاک خوراک پکار دے، دغه شان د ذهن خوراک دپاره شاعري مثبت ادب هم ضروري دے چې هغه د بدو لارو چارو نه بچ شي.

خبريالانو ته شمس بونېري ووئيل چې ادبي جرگه به د "جنگ دپاره نۀ بلکې د امن دپاره اواز اوچتوي"

پرېس کانفرنس کښې شمس بونېري ووئيل چې د پوځي اپرېشن وخت کښې د مردان او صوابي خلقو د بونېر د خلقو ډېره مرسته کړې ده. مونږ ئې مننه کوو او يو لوئے محفل به کوو، مشاعره به کوو چې پکښې به د دواړو ضلعو ناظمان اعلي راغواړو.

د بونېر په را پېښو مسئلو شمس بونېري ووئيل چې سيکيورټي ايجنسۍ د ضلعو د مدد او امن دپاره راغلي دي، دوي به امن راولي. بونېر ادبي جرگه به ئې مرسته کوي خو د سرچ اپرېشن او تلاش په نوم د پښتنو د کورونو جامه تلاشي او چادر، چار ديواري پامال کول نۀ منو. دغه شان په کرفيو کښې د حد نه زياته سخت گيري کول نۀ دي پکار. وسله خلق د خپل حفاظت دپاره ساتي، دا د خلقو نه په زور اخستل نۀ دي پکار.

> سيکيورټي ايجنسۍ د ضلعو د مدد او امن دپاره راغلي دي، دوي به امن راولي. بونېر ادبي جرگه به ئې مرسته کوي خو د سرچ اپرېشن او تلاش په نوم د پښتنو د کورونو جامه تلاشي او چادر، چار ديواري پامال کول نۀ منو.

پرېس کانفرنس په اخر کښې د بونېر د خبريالانو د مختلفو ترخو او خوږو سوالونو په جواب کښې شمس بونېري ووئيل چې هره ضلع کښې د ادب منظمه ډله وه خو بونېر کښې نۀ وه. ځکه مو ادبي جرگه جوړه کړه. دا د شاعرانو اديبانو نيټ ورک دے، ژوندي به ئې ساتي، د منظمې ډلې د نشت په وجه د بونېر اديبان په افغانستان کښې د عالمي پښتو کانفرنس د دعوت او شرکت نه محرومه پاتې شو، د بونېر زمکه زرخېزه ده، ډېرو ملگرو ډېر کتابونه ليکلي دي خو د غربت د لاسه په المارو، صندوقونو کښې پراتۀ دي. د بونېر ۵۰ شاعران ټي وي ريډيو پروگرامونو کښې ځلېدلي دي.

د سالارزو دلسوز صيب ۱۱ کتابونه. شمس بونيري ٦ کتابونه ليکلي چاپ شوي دي. د خدوخېل شيرين زاده "غانټول" ناول صدارتي ايوارډ له منتخب شوے ؤ خو انکاري شو، د خدوخېل تاريخ ئې ليکلے دے. بونېر ادبي جرگه د ټولو ژبو (پښتو، اردو، عربي، انگرېزي، گجري او هندي) شاعرانو اديبانو نمائنده جرگه ده. د موجوده صوبائي حکومت لويه کارنامه په تعليم کښې ترلسمه پښتو سرکاري ژبه لازمي کول دي.